**د تکراري پناه غوښتنې نوم لیکنې (ثبت نام)  لپاره نوبت مهالوېش " د پناه غوښتنې خدمت لخوا په بریښنايي ډول**

له نن ورځې، دوشنبه ۲۲/ ۸، څخه به "د تکراري غوښتنې غوښتنلیک د نوم لیکنې لپاره د نوبت مهالویش" محصول لږ ی پلیټ فارم باید پلي شي، کوم چې هغه پناه غوښتونکو ته په نښه (ګوته) کېږي چې لومړني (ابتدايي) غوښتنلیک یې په پای کې رد شوی وي. په حقیقت کی، دا پلیټ فارم د دریم هیواد هغه اتباعو (TCNs) ته په نښه شوی څوک چې غواړي زموږ په هیواد (یونان) کې د نړیوال محافظت لپاره نوې ادعأ وړاندې کړي، وروسته له دې چې د دوی لومړني غوښتنلیک په بشپړه توګه رد شوی وي.

دا پلیټ فارم په پر مختللی توګه جوړ شوی او په لاندی ژبو کې شتون لري: انګلیسي، البانیایي، عربي، بنګالي، دري، فارسي، ګرجستاني، کرمانجي، پښتو، ترکي، اردو، په راتلونکي کې د اړتیا په صورت کې نورو ژبو ته د پراختیا د امکان سره.

پلیټ فارم ته د لاندې لینک له لارې لاسرسی کېدلای شي:
https://apps.migration.gov.gr/international-protection-registration

د مهالویش په سمه توګه پلي کولو او ستاسو د مرستې د اسانتیا لپاره، مهرباني وکړئ لږ تر لږه ۳۰ دقیقې مخکې د خپل ټاکل شوي نوم لیکنې ملاقات وخت څخه مخکې ورشئ، خپل د پېژندنې ټول اسناد د ځانه سره (په لاس) ولري.

د پورتنی کړنلارې په پیل کولو سره، د سکایپ غوښتنلیک (SKYPE)، چې مخکې د نوم لیکنې نوبت مهالوېش لپاره فعال و، اوس به غیر فعال شي.

په پای کې، موږ تاسو ته دا یادونه کوو چې، د ټولو علاقه لرونکو کسانو لپاره چې هیڅکله یې د پناه غوښتنې خدماتو دفترونو څخه لیدنه )مراجعه) نه ده کړې اود نړیوال خوندیتوب لپاره یې غوښتنلیک نه دی سپارلی تر دې دمه، اوس دا ممکنه ده چې په لاندې نقطو کې ثبت (راجستر) شي: ملاکاسا کمپ او دیواتا کمپ، په پلیټ فارم کې تشریح شوي د " ابتدايي نوم لیکنی د نوبت مهالویش کول" کړنلاره تعقیب کړی، تاسو کولای شئ د لاندې ذکر شوي لینک له لارې هم لاسرسی ومومئ.
(https://apps.migration.gov.gr/international-protection-registration ).